شریعت
ورځپاڼه

SHARIAT DAILY

د افغانستان د اسلامي امارت مرکزي خپرانیز ارګان

شپږم کال ۵۱مه گڼه پرله پسې (۴۳۰) یکشنبه د۱۴۲۲هـ ق دربیع الثاني (۲٤)
د ۱۳۸۰ هـ ش کال دسرطان (۲٤) د ۲۰۰۱ میلادي کال دجولای (۱۵)

الهي فرمان

نو کله چې زموږ عذاب وریاندې راغی ، ولې یې عاجزي نه کوله ؟ خو د دوی زړونه (لاپسې) کلک شول او شیطان هغه څه ورته ښایسته کړل چې دوی به کول ـــــ (٤۳ - انعام)

دعربي اماراتو هلال احمر له افغاني سرې میاشتې سره مرستې کوي

دغه مرستې به دخوراکي موادو ، کورهانو او دارالایتام د ترمیم په برخه ... کړي

دمتحده عربي اماراتو د هلال احمر ټولنه په پام کې لري چې په نږدې راتلونکې به بېلابېلو برخوکې دافغاني سرې میاشتې له عالي ټولنې سره همکاري وکړي.

دباختراطلاعاتي آژانس خبر راکړ په هغې کتنه کې چې دافغاني سرې میاشتې دعالي ټولنې لوی رئیس او سکرتر جنرال محترم ملاسید عبدالله مهاجر دمتحده عربي اماراتو دهلال احمر له رئیس محترم خلیفه ناصر الویدي سره په دغه هکله کړې وکړه دمتحده عربي اماراتو لوړې ژمنه وکړه چې یوسلوشل زره ډالره د دارالایتام د ودانۍ دترمیمولو لپاره اودیوسلو څلویښت زرو ډالرو په ارزښت خوراکي مواد او دوه سوه پنځوس ټنه خرما دافغانۍ سرې میاشتې عالي ټولنې ته ورکړي .

دافغانۍ سرې میاشتې دعالي ټولنې هیات چې دربیع الاول

٤ مخ

در شفاخانه میوند :

عملیات های مغلق جراحی پلاستیك موفقانه صورت میگیرد

در سرویس جراحی پلاستیک ... مراجعه میکنند

کابل - شریعت :
شفاخانه میوند یکی از سابقه دار ترین شفاخانه های شهر کابل به شمار میرود که روزانه ٤۰۰ الی ۵۰۰ مریض در این شفاخانه مراجعه میکنند این مطلب را محترم محمد نادر ساجد

ص٤

مطالبه پست سریع باختر :

برای پرواز های خارجی اجازه داده شود

انتقال پست ، پارسل ، ادویه جات ، سمپل های مریضان برای لابراتوار ، انتقال اشخاص مریض شامل این مطالبه میباشد

کابل - شریعت
اخیراً از جانب شرکت خصوصی پست سریع باختر عنوانی شعبه تعزیرات شورای امنیت ملل متحد طرحی در مورد اجازه پرواز های طیارات چارتر این شرکت از افغانستان جانب پشاور ، مشهد و دوبی تقدیم گردیده است که نتایج کلی از آن تاکنون بدست نیامده

ص٤

په غزني کې دشمس العارفین د زیارت بیا ودانول پیل شول

غزني :
په هیوادکې دتاریخي ابداتو دترمیمولو او بیا جوړولو په دوام دغزني په ولایت کې دشمس العارفین

٤ مخ

په هیلمند کې فارغانو ته پګړۍ وتړل شوې

هیلمند :
دهیلمند ولایت دجهادي مدرسې دپنځوسو تنو فارغانو دفضلیت پګړۍ په دې وروستیو وختونو کې دیولړ

٤ مخ

دلاسي صنایعو پر زده کوونکو انعامونه وویشل شول

کابل :
دکار او ټولنیزو چارو دلوی ریاست دلاسي صنایعو د زده کړې دبېلابېلو برخو ۱۷ تنه زده کوونکي دنغدي

٤ مخ

بکیگ گاز سبب حریق دلخراش گردید

کابل - شریعت
اخیراً حریق مدهشی در منطقه گارته ۳ علاولدین رخ داد که خسارات مالی زیادی به بار آورد .
خبرنگار ما می نگارد :

ص٤

یک تن قصاب متخلف دستگیر گردید

کابل :
یکتن قصاب که به عرضه گوشت حقیر صحی به

ص٤

د حاجي عبدالرحمن دجامع جوماث کار په بیړه روان دی

نوي جوماث کې په بوخت (۷۰۰۰) لمونځ کوونکي ځایږي

کابل - شریعت:
جوماث دمسلمانانو لپاره دیر مقدس او د الله پاک دعبادت کولو ځای دی مسلمانانو تل دغه پاک ځای ته توجه کړې او دخپل مال ډیره برخه یې ورته بیله کړیده : له دغې جملې نه

٤ مخ

جنرال مشرف نوی ډیلي ته ورسید

نوی ډیلي
دپاکستان داسلامي جمهوریت جمهور رئیس او داجرائیوه شورا رئیس جنرال پرویز مشرف پرون هند ته دیو رسمي سفر لپاره نوی ډیلي ته ورسید .
دنوی ډیلي په هوایي ډګر کې دهند ... صدراعظم اټل بیهاري واجپای او

٤ مخ



عکسونه : دحاجي عبدالرحمن دجامع جوماث نقشه او دکار جریان ښيي . عکاسي یوسف ...

صهیونیستها بازهم دست به جنایت زدند

نظامیان رژیم صهیونیست بازهم به کمپ مهاجرین فلسطینی درشهر الخلیل درساحل غربی حمله نمودند . عساکر اشغالگر دراین حمله به روی شهروندان فلسطینی تیراندازی نموده که براثر آن ده تن از مردمان بی دفاع فلسطینی جراحت برداشته و چندین منزل تخریب گردیده است .

مسابقه میان تیم های کندهار واتحاد مساویانه خاتمه یافت

کابل - شریعت :
مسابقه جالب که دیروز میان تیم های اتحاد و تیم شاهین ولایت کندهار برگذار گردیده بود مساویانه خاتمه یافت . به اساس

ص٤

چین یک استاد امریکایی را متهم و از کشور اخراج نمود

ازمنابع خارجی :
یک دادگاهی چین لی شاومین استاد دانشگاه طب امریکا را محکوم به جاسوسی نمود . والرا ازچین اخراج نمود . محاکمه

ص٤

مردم ایتالیا سفر آریل شارون را محکوم کردند

مردم واحزاب سیاسی ایتالیا دریک راه پیمایی اشتراک ورزیدند که علیه سفر صدراعظم اسرائیل به آن کشور صورت میگیرد این تظاهرات درمقابل عمارت پارلمان ایتالیا صورت گرفته وآنها از جنایات گذشته شارون یادآوری نموده واز این مسافرت وی انتقاد به عمل آوردند .

داورله امله څلویښت مایونونه وچاودل

انقره : دترکیې او سوریې ترمنځ په یوه سرحدي سیمه کې داورلګیدنې له امله پرون په دغې سیمې کې څلویښت ایشول شوي ماینونه وچاودیدل دانا تولي خبري آژانس خبر ورکړ دغه پېښه د ترکیې دحتا ... په ښار کې شویده .



عکس : نمایی ازفابریکه کودوبرق مزارشریف رانشان میدهد که فعالیت آن در اقتصادکشور نقش برازنده ای را ایفا میکند -
عکاسی یوسف

در اعتراض به حکم محکمه

یک زندانی قزاقی دهان خودرا دوخت

یک زندانی قزاقستانی در شهر آقتبه که درغرب قزاقستان بر قتل یک زن به ده سال حبس محکوم شده بود معتقد است که در اعتراض به حکم محکمه مبنی

ص ٤

امریکا عامل اساسی تجاوزات صهیونیستهاست

غزه:
امریکاعامل اساسی تجاوزات صهیونیستها برفلسطین است این مطلب را یک مسوول اداره خودمختار

ص ٤

سرمقاله

دلوی او بښونکي خدای «ج» په نامه

دهیواد ودانی زموږ خپل مکلفیت دی

په اساسي توګه خو دا اصل هرچاته قبول دي چې دخپل هیواد بیاودانول په خپله د افغانانو پوه ستره ملي ذمه واري ده او هرافغان باید په دې هکله ډېرفکر او ډېرکار وکړي مګر بیا هم یو منظم پلان اوچوکاټ ته خامخا اړتیا شته . مثلاً څه موده وړاندې په ختیځ زون کې چارواکو او سوداګرو دکابل - جلال آباد سړک جوړولو فیصله وکړه ، داځکه چې دوي په دې وپوهېدل چې که پوخ سړک غواړو نو هیڅکله نه په خپله جوړیږي او نه یې بل څوک راته جوړوي بلکي حتماً به خپله متې پورته کوو او زحمت به ګالو په همدي ډول ورمه ورځ په کندهارکي هم ورته

۲ مخ

درسول الله «صلی الله علیه وسلم» له نظره داسلامي ټولنې انځور

نکته های نغز ص ۳ تمثیل استقلالیت قوه قضائیه

دطبیعي ځنګلونو له منځه تلل او پرمحیط یې دبدو اثر اتو اغیزه

شريـعت

دتأسيس كال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليكوال هيئت ترنظر لاندې
مسؤول مدير : الحاج ملا اسدالله «حنيفي»
مرستيال : غلام محمد فاروق
دبيې گڼې بيه : په هيواد کې (۱۰۰۰) افغاني په پاكستان كې (۳) كلداري
تيلـــفـــون : ۲۱۳۸۱ توزيع او شكايات :٦۲۸٥۹
پست بكس : (٤۷۱) كابل افغانستان
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مركز
چاپ : امارتي مطبعه

دسرمقالې پاتې برخه

غونډه شوې او له سلامشورې وروسته دکابل -کندهار او هرات دلوې لارې پخولو په مقصد دپيسو راټولولو پريکړه شوې ده -ربښتيا هم چې داهيواد به بوازې او بوازې زموږ په خپلو متو ودانيږي - نورباید چاته هيله او انتظار ونه کړو - موږ باید په دې وپوهيږو چې که دجهاد په دوره کې مو نړيوالو مرسته کوله ځانې اهداف يې درلودل ، اوس به نوزموږ دخپل كور په بيا ودانولو كې دچاځه هدف اوګټه وي چې بې ځايه ورته په ټمه شو ، راځې داسادګې پريږدو ، ځان پوه کړو او له دې زيات ونه غوليږو - زموږ دجګړه ځپلې ټپې ټپي هيواد دبيا ودانولو او ســــــورولو لپـاره ايکي بوازې همـدغـه لارده چې دولاياتو ، ولسواليو، كليو او كورونو په سطح يوه عمومي سياله پيل او هر سړی په دې فكر کې شي چې څنګه خــــپل تړدې چاپيـــر بال آباد او سمــــورکړي يقيناً همدغه دالله عزوجل تكويني قانون دی چې كه څوک كاركوي او زحمت ګالي ، ثمره به يې اخلي او ســيـــه به يې ودانيږي ، كه نه يې كوي په خپله به تل اړ، بې عزته ، او په خواريواختـه وي - څكه لوي خداي (ج) تر هغـه دېو قـوم حالت نه بدلوي تر څو چې بخپله يې دبدلون څه تدبيراو تصميم نه وي نيولى . نو راځې نورې خبرې پريږدې كه ربښتيا هم دخپل دين سم تطبيق او په نړيوال توګه عزت اوخپلوا كې غواړې نو ترټولومخكې له پردې احتيـاجـه ځان خلاص كړې - او داهله كيداى شي چې پرله پسې كار وكړو او زيارو ګالو په كارده چې داسلامي امارت ټول چارواكي ،وزيران ،واليان ، ولسـوالان او نورمســـولين په خپلو خپلو ادارو اولاس لاندې سيمـوكې دهمدغسې كار ونو بند بنا وكړي ، له خلكو سره دمشكلاتو په حل كې مشوري وكړي او په خپله له هغوی نه دحل لار وغواړي . په دې توګه به دخلكو او مسـوليـنو ترمنځ اعتـمـاد مضبـوط او دستونزو په حل او دكارونو پرمختياكې آساني راشي .

داسلامي نړۍ طبابت ته لنډه کتنه ۱۰

پوهاند عبدالحي مومني

خـو دېرا امكان لري چې د دېرې مطالعې له كبله رونډ شوی وي. ځكه هغـه هيڅكله كتـاب له ځانه نه لرې كاوه اوكله به چې وزګار شونوليكلو ته به يې دوام ورکاوه .

هغـه په كيـمـيا كې د قـدرور كارونه کړيدي . د بيلګې په توګه د اجسامو مخصوص وزن تعينول ، د موادو طبقه بندي كول ، د سلفر ، مس ، فيروم سلفات لاس ته راوړل ، همدارنګه د اسيـد سلفـوريک جوړول د ده له مهمو كارونو شميرل كيږي .

«... هغـه په تجربې ته ترعلمه ترجيح وركوله او قرع او انبيق يې اختراع کړيدي «افـغـانسـتـان در مسـير تاريخ ص ۱٥۰ - ۱٦۱ مير غلام محمد غبار» .

د رازي د آثارو تعـداد ۱۱۳ په مفصله توګه او ۲۸ په مختصره ډول ثبت شويدي .

همدارنګه دوه منظومې هم د هغه

ليكنې دې چې ورکې شويدي .
مـشـهـور طبي كـتـاب د هغـه «حاوي» دی چې لاتيني ترجمه يې د فرج بن سالم له خوا په ۱۲۹۷ م كې د شـارل چې د آنژو پاچا ؤ ، لپـاره صـــورت مــونډلى او دلاتيني

ژبې چاپ يې لومړی ځل په ۱٤۸٤ په برسيا كې او بل ځلې په ونيز كې په ۱٥٤۲ كـال شـويدي . ددې اثر دړې ټوکه د بريتانيا په موزيم كې ، دړې ټوكـه په بودلين كې ، څلور يا پنځه جلده يې په سكوريال او نور ټوكـونه په مـيـونيخ او سن پطرز بورګ كې موجود دي .

علي بن عبـاس اهوازي دكـامل الصناعه خپل كتـاب كې ليكي : «دحـاوي (الحـاوي في الطب) په كتـاب كې ټول هغه مطالب چې يو

طبيب بايد پوه وی ليكل شويدي .
په دې كـتـاب كـې مـخـتـلف موضوعات لكه حفظ الصحه ، د دوا او غـذا په ذريعـه تداوي ، راز راز مـرضـونه ، دناروغيـو عـلامې او عوارض او نور طبي موضوعات تر

بحث لاندې راغلي دي » (۲۹۰ مخ) .

دوهم كـتـاب يې «المنصـوری» نوميږي چې منصور بن اسحق ته چې په كـال ۹۰۳ كـې د رئ حكمـران ؤ هديه شويدي . په منځنيو پيړيو كې ددې كتـاب نهم ټوک په ټولو طبي مدارسو كې داستفادې وړ ګرځيدلى دى .

بله رسـاله يې «برالساعت» چې د ټولو توجـه يې ځان ته اړولې ده او

دشاهي سـوغات ، دستـورالطب په نامه ياديږي .

بل اثر يې دكوچنيانو دناروغيو په هكله دی چې سل په سلو كې ابتكاري او همــــدا علت دی چې رازي ته د كوچنيانو د طبابت پلار وايي .

رازي د شرې (سرخكان) او كوي (چيـچک) په باره كـې ډېر كـارونه كړيدي .

بل اثر يې د صفرا تيرو د معالجې په باره كې دى .

همدارنګه دهغه ډېرې طبي رسالې لكه دنقرص ،روماتيزم ،قولنج او داسې نورچې القفطي هغه ياد كړيدي د رازي له خوا منځ ته راغلي دي .

همـدارنګه هغـه ۱۰-۱۲ طبي بحثـونه ليكلي دي چې له هغـونه «جـامع » ، «كـافي » ، «مـدخل»

يادولى شو ، په دې ډول د «ملوكي» او «فاخر» هم نوم اخيستلى شو . د ابن اصيبعه په كتاب عيون الانباخي طبقات الاطبا ، كې د رازي په باره كې ليكي : « عـالي فطرت يې درلود ، تيـز هوشه ؤ ، عـبـارت يې ښـه ؤ ، مهارت يې زيات او نظر يې د طب په صناعت او بحثـونو كـې قـوي ؤ » (دوهم ټوک ۲۳ مخ)

په بل روايت رازي تر ډېرو لوي او واړه آثـار لـيـكـلـي دي . ده ځو دواګـانې د سـترګـو ميـځلو لپـاره جوړې كړې او دلومړي ځل لپـاره يې دحيـرانانو د كـولـولـه د زخمـونو د ګنډلو لپاره كار اخيـستى دى .

هغه د لومړي ځل لپاره د سترګو د كسـي عكس العمل د نور په مقـابل كې كشف كړ او د ټولو نه مهم كار يې شايد د الكولو جوړول وي چې دهغه د نبوغ كـارونو په شميـر كې راځي . رازي او ابن سـينا ډوارده كـرو ګـرو سخت مخالفان ؤ .

پاتې لري

طنز
د ړيري آزموينه كه د آشپزي ؟

له يوه تجار سره د امريكا د تكزاس په ښـار كې مزدور وم او دومره مې كولاى شواى چې د خـپـل بال بچ لپـاره ورځنۍ قـوت پيـداكـړم . ناڅاپه يوه ورځ مريض شوم او دا مريضى مې يوه مياشت اوږده شوه .تجار وختـه زما پرځاى بل څوک توظيف كړی ؤ . څه مـوده نورهم بېكاره پاتې شـوم آخر ناچار د يوه هوټل د اعلان په نتيجه كې چې د يوه تن آشپز لپاده يې

كـــړی ؤ ، ولاړم ترڅو د آشپزي لپاره شرايط وګورم . د هوټل مســـئول را ته وويل زموږ سره لسوټتو خپل نوم ثبت كـــړيدی . دوه ورځې وروسته به امتحان اخلو او له امتحان وروسته موږ دوه تنه د آشپــز په حيث نيســو . امتحان تېر شو او زه پكې اول نمره شـوم ځكه چې زما پلار هم په ولايت كـــې ۲۲ كـاله آشپـز ؤ ، نو زه هم په دې اړه بلد وم . كله چې په ټاكلي ورځ ورغلم ، راته يې

وويل چې و بخښـه موږ ږيره لرونكي آشپز ته نيسو او زما په ځاى يې يوبـل خـــــام شويكى د فلمي ښې هلک نيولى ؤ كله مې چې وپوښتل آخر تاسو د ږيرو امـتحـان واخيـست كـه د آشپـزی ، مـــــســـــئول راته وويل : له اضافي خبرو معذرت غواړم ! هغـه زموږ كار دی . ما وويل ږيره خـو مـې له امـتحـانـه مخكې هم ښكاريده ، نو بيا امتحـان ته څه ضـرورت ؤ .

هغه بيا وويل ، معذرت غواړم !

ږيره د آشپزی سره ښه نه ښكاري ، ځكه ويښتـان يې په ديګ كې لويږي ما وويل ، هغـه څـنـور هلک زمـا د ږيرې لس چنده ويښتـان په سر لري ، كه د ويښتـانو تويېدل علت وي ، نو بيـا د سر او ږيرې ويښتـان څه فرق لري ، دواړه ويښتـان دي او بيا دسر دويښتانو تويېدل په طبيـعـي ډول د ږيرې په نسبت ډېر وي ، تيلفون ته يې لاس كړ او استـخبـاراتي شبكې سره يې شفري ارتباط ونيـو ، پوليس را غلل او زه

يې دوه مياشتې بندي كړم له بندنه د خلاصيدو په ورځ مې له مسـتنطق نه وپوښتل زما ګناه څه وه ، هغـه وويل ، ته د تندروانو له جملې يې . له ځان سره مې وويل هغوی چې د عقلي او منطقي د لايلو د اوريدو توان نه لري بيـا هم ځان مسـتـرقي او روشنفكر بولي او «تندرو» نه دی خـو زه په داسې حـال كـې چې د عقل په تله له هغه سره خبری كـوم افراطي او تندرو يم ؟؟ ربښتـيا چې نوی غربي تمدن له عقل او منطقـه آخوا كيـږدی درولې ده .

سليمان

دطبيعي ځنګلونو له منځه تلل او پرمحيط يې دبدو اثراتو اغيزه

اسد الله حصار شاهي وال

ځنګلونه يوه ملي شـتـمنى ده ځنګلونه نه يواځې دوګړو لپاره بلكې دژوند لپـاره هم دژوندذبنـتـيـزی ارتـيـاپه توګـه شـمـيـرل كـيـږي دځنګلونو ځـځـه دسـون دلرګـيـو ،تعـمـيـراتي لرګـيـو ،مـيـوو ، دسـيلابونو دمـخنيـوی او دهواپه پاكوالي كې ګټه اخستل كيږي زموږ په هيواد كې دلنځوا نيـتـرو ، بلوطو ،بادام ،جلغـوزي ، پـسـتـې ،چار مـغـزاو نور ځنګلونه شتـه دی دافـغـانسـتـان اقـتـصـاد په كـرنې اومـالداري تكيـه لري او په سلو كې ۸٥ تـه دكـرنې او مـالدارى په چارو بوخت دی .

ددولتي څهكو د۱۹۸۹ كـــال سره سم ځنګلونو نژدې ۱.۹ مليونه هكتاره ځمكه خاوري په سلو كې ۲,۹ جـوړوي . دكـونړ او نورســتـان ځنګلونه دهيواد دټولو مشهور ؤ او ښكلي ځنګلونه حسابيدل دكونړ ولايت ۲۲٥۳٦۹ هكتـاره طبـعي ځنګلونه لري لغمان ٥۷٦۸۰ هكتاره ځنګلونه لري په افـغـانسـتـان كې دطبـيـعي ځنګلونو ټوله سـاحـه ۱۸ مليونو هكتارو ته رسيږي چې ددې جملې څخه دننګرهار ولايت دطبيعي ځنګلونو ټوله سـاحـه ۹٤۰۲۸ هكتـاره ده اوپكتيـا هم په زره پورې ځنګلونه درلودل چې دپكتـيـا

دځنګلونو مـساحت ۷٤٥۰۰ جريب ؤ خو دېده مرغه په تيـرو ۲۳ كلونو كې ويجـاړونكې جګړې دهيـواد ښكلي او ګڼ ځنګلو نه هم يوه پنا كړل او پاتې يې په بې رحمانه توګه ووهل شول .

دهيواد په شمـال كې دجګړې دناتارله امله پخـوا ۲۳ كلونو كې دهيـواد په شمـال او لويديځ كې دپستې او غرنۍ نښترو ځنګلو نو ته هم زيان رسيـــدلى دى په جګړو برسيـــره په تيـرو دوو كلونو كې دسـخـتـې وچكالې هم ځنګلونو او څـرځـايونو ته زيان رسـولى دی او پزګران دخپلو حيواناتو څرڅولو ته مجبور شوي په افـغـانسـتـان كې په ځنګلونو برسيره دحيـواناتو دنسل دمنځه تللو زياته ويره هم شته دی .

د يو سرويسي په دوينا يو جريب ځنګلې ځـمـكه هر كـــال ۳۰ ټنه خـاوري او دوړې په خپلو ځـانګو او پاڼو كې جذبوي او دهوا دپاكوالي سبب ګرځي په افـغـانسـتـان كې دځنګلونو دمنځـه تلل دويجـاړو نكوسيـلابونو سبب ګـرځيـدلى دی دبلې خوا ځنګلونه دباران دوريدو په اندازه داب هوااو تودوخې ددرجې په تغيركې زياته اغيزه لري همدااوس دځنګلونو په منځـه تللو دزياتي وچكالې له امله تودوخـه زياته

شوې ده او س چې دسرطان مياشت ده تو دوخه ٤٦ درجوته رسيدلې ده چې ددېنه هم دزياتو تودوخې ويره شته دى دغه راز دځنګلو نو دمنځه تلل دوچكالې په زياتيـــدو او دسيلابونو په زياتيدو كې هم زيات تاثير لري دبادغيس دسيمې ځنګلونو ته په تيـرو ۲۳ كلونو كې دجګړې او په ولايتـوكې دوچكالې له امله زيان رسيدلى دی دبادغيس دپستې ځنګلو نو يو مليـون پنځـه سـوه جريبه ځمكه سـاحـه نيـولې ده او هر كال نږدې دوه سوه شپږ اتيا زره منه حاصل وركوی په نړيوال بازارو نوكې ددې پستې مجموعي بيه نږدې دوه مليـونه ډالره كيـږي په تيـرو دوو لسيزوكې نيمايي ځنګلو نو ځخه زيات دمنځـه تللي دی دځنګلونو په له منځـه تلو ســره طوفـا نو نه خاورې او دوړې زياتيږي افغانستان كې دمـرغـانو او وحشـي حيـواناتو نسـل ته هم دځنګلو نو په له منځـه تللو ســره خطرزيات شـوی دی په افــغــانســتـــان كې ۱۱۹ ډوله تى لرونكې حيـوانات ٤٦۰۰ ډوله الوتونكي مـرغـان موجود ؤ همدا اوس دزمـري ، هوسی پړانګ ، باختـري

ګـوزن دهغـو حيـواناتو په لسـت كې دي چې نسلونه يې دوركيدو په درشل كې دي په دې برســيـــره په مـرغـانو كې دباز ، باښې ، ګـوريت كمبود هم زيات شوی دی يو افغاني بازپه دری زره كلداری خـرڅـيږي او كله چې داباز عربي هيواد ته ورسيږي بيه يې اته برابره كيږي دماركوپولو پسـونه چې دبدخشـان په غـرونوكې ژوند كوي دنړۍ دخوراستروو وحشي پسـونوڅخه شـمـيـرل كيـږي چې د۱۳٥۸ كـال څخه دمخـه داډول پسونو په امريكا او اروپا كې دښكار يانو لخوا ۱٦۰۰ ډالرو په مقابل كې ښكاركاوه او دښكال دزمري وروستۍ قيمتي ښكار ګڼل كيده ددغه غټواو كړو ښكر ونو دنړۍ دښكار يانو پام راړولى ؤ . په ۱۳٥۷ هـ ش كال كې ۲٥۰۰ ماركوپولو پسونو په لوی پامير او دبدخشان ولايت په وادې كې ژوند كاوه ، خواوس يې نسل په نيشت حساب دى په دې برسيره افغانستان دلوړوغرونو ځنګلونو او جهيلونو په درلودلو سره دالوتونكو مرغانو له دركه زيات شتمن ؤ په افغانستان كې څه ناڅه ٤۸۰ ډوله الوتونكي ؤ لويې هيلې او وړې هيلې چې دغزنۍ د ناور په دښته او ولاړو اوبو كې هګۍ اچولې او شمير يې دټولو قازونو په سلو كې ۲ ته رسيږي يو بل كم باته الوتونكي سپينه زاڼې ده ددغه نسل

اوس هم دمنځه تلو په حال كې دی چې : مرغان دغرويه ولاړو اوبو كې پيدا كيدل دغربي ولاړو اوبو مساحت ۱۳٥۰۰۰ جريبه دی دكندوز په امام صاحب كې صحرايي چرګانو نسل په فراه كې دزرېنو زركو او دعقاب نسل دكمبود او دمنځه تلو په حال كې دی دمرغانو او دوحشي حيوانات نسلونه په تيرو ۲۳ كلونو كې دجګړو دناتار او دوچكالې او دځنګلونو دمنځه تللو له امله دمنځه تلو په حال كې دی په افغانستان كې په تيرو دوو لسيزو كې دجګړو دناتار له امله ۲۰۰۰ هكتاره ځنګلونه ٥۰۰ فابريكې چې يواځې ۱۷۰ يې دكابل دپلچرخي په صنعتي سيمه كې ٥۰۰ زره كورونه ٤۰۰ ښوونځي ۲۰۰ كلينيكونه دمنځه تللي دي په افغانستان كې دتيرو دوو لسيزو دجګړو دناتار او وچكالې له امله سلګونو حيواناتو ، سلګونو مرغانو او سلګونو نباتاتو نسل دوركيدو په حال كې دی ځنګلونه اوڅرځايونه له منځه تللي دي سيلابونه او دخاورو او دوړو طوفانو نه زيات شوي دي په افغانستان كې دقره قل دپوستكي لپاره دقره قل نسل هم په خطر دی حال دادی چې دجګړې څخه دمخه افغانستان په نيو يارك او لندن كې دقره قل بازار ونه په انحصار كې لرل په تيرو دوه لسيزو كې دجګړې دناتار له امله دقره قل په توليد او د پسونو روزنه كې زيات كموالى راغلى دی . له دې سره سره بياهم اسلامي امارت

دې ټولو برخوته زياته پاملرنه كړې ده. افغانستان چې يو غرنى هيواد دى دهيواد په شمال كې دقره قل پسونه زيات رواج لري چې دهغې دپوستكي څخه يې قره قل جوړول زيات رواج درلوده چې اكثره دسيمې لوړرتبه مامورينو او دغه راز ملي سو داګرو اوشتمنو خلكو به قره قلي په سركولې خو اوس داورواج له منځه تللى دی .

ددې څخه علاوه به هر كال زيات دقره قل پوستكي بهرته انتقاليدل او افغانستان به ددې لارې زيات عوايد لاس ته راوړل پخوا زمانو كې دقره قل دپوټكي پسونه دمركزي اسيا دتركستان څخه داستراحان دسيمې دقره قل علاقه كې روزل كيده او بيا دهغه ځاى څخه دافغانستان شمالي سيموته راوړل شول داځاى دقره قل دپسونو دروزلو لپاره ډېر مساعد ؤ او د څه مودې په تيرېدو سره ددې سيمې څخه دقره قل پوستكو تجارت مختلفو هيوادو ته رواج وموند او په ۱۸ پيړی كې يې زيات پرمختګ وكړاو سوداګرو دا پوټكي اروپا او امريكا ته وړل .

دقـــره قل پوټكي ٤ ډوله دي چې عبارت دي له پرتي ، دوخ پرتي ، قلور ، جيګـمـتداتو مونه اروپايي مشـتـريانو پرقـره قل پوټكو باندې ايښې ؤ او ترنن پورې يې دهيـــواد مـالداران هم دپوټكو په رقم كې استـعـمـالوي داتومونه انګريزي فرانسوي ، او الماني دي په افغانستان كې مهم دقره قل پوټكي دادي قلم هغه پوټكي دي چې ګلونه يې اوږده

، نري او منظم يعني نسبتاً هواروي ،ليله ګل : چې ګلونه يې دلوبيا په څير وي ، ماش ګل : نسبت ليله ګل ته يې ګلونه كـوچنې وي .اره ګل : ګلونه يې پرې كړې او داري دغابښونو په شكل وي غـوزه ګل : غـوزي په شان غټ ګلان لري .

كـــل : ګلونه يې ډېر لوی وي سوخته ګل : ګلونه يې ځلانه لري

ســـــي چم ګل : غيـرمعين ګـــلان لري . قـــره قل درنګ او خوامـو له امله په دې ډول دی سور ، ددې پوټكي دويښتانو څوكې ځلا لري او تر ټولو اعلى دی او ســورهم څـو ډوله دی لكه تور ســور ،بر سور تصـــواري ســور او خليلي ســور پخوا افغانستان په لندن او نيو يارك كې دقـره قل پوټكو دپلورولو لپـاره نمايندګي درلودې دقره قل دپسونو دروزلو مهم ځايونه په افغانستان كې اندخوی ، ميـمـنه ، آقـچـه ،شبرغان ،مزار ،كندز او تاشقرغان دي دیادولو وړده چې په تيـرو ۲۳ كلونو كې دجګړې دناتار له امله او هم دوروستۍ سختې وچكالۍ له امله اوس په افغانستان كې دقره قل دپسونو نسل هم دمنځه تللو په حال كې دی او دشمال په سيموكې دقره قل توليد او دپسونو روزنې كې زيات كــــموالى راغلى دی .

اسلامی معارف

د اسلامی ټولنی انځور

د رسول الله «ص» له نظره

اوربعلی به مـــو وی چې څینی خلک داسي انگیری چې گواکی ایمان او اسلام د زړه خبره او هغه د هرچا خپل کار دی نورنو په اجتماعی مسایلو کي چې هرڅه څواړی ، هماغسی به کوی ، خپل فکر او شخصی مصالح ورته د ښه او بد د پیژاندلو معیار ښکاری . چې داسي شان کردار او تفکر د اسلام له حقیقی مفکوري سره هیڅ اړخ نه لگوی.

منو چې په اسلام کي فردی او شخصی مسایل شته چې عملی کول یې د هرچا شخصی مسئولیت دی . خو له چا پټه نه ده چې د بر احکام او فرامین په یو ازي توگه څوک عملی کولای نه شی او که بیا هم هڅه کوی ښایی مطلوبه نتیجه ورته کړی له حضرت ابو هریره نه روایت دی وایی چې پیغمبر علیه السلام وفرمایل : قسم په خدای چې جنت ته داخیلدلای نه شئ ، ترڅو چې ایمان را نه وړئ او د ایمان په دایره کي نه شئ راتلای ترڅو چې خپلو کي محبت ونه لرئ نو آیا داسي کار در وښیم چې په خپلو کي محبت درزیات کړی ؟

تاسو په خپلو کي سلام خپور کړئ .«مسلم رح »

د اسلام اولین رهبر حضرت محمد «ص » د د غه الهی او انسان جوړونکی قانون د لومړنی ممثل په توگه د مسلمانانو اجتماعی روابطو او تشکیلاتی اړخ ته اشاره کوی او فرمائی :

دلته وگورئ چې : د مسلمانانو خپلمنځی محبت د ایمان د پوره کیدلو او همداشان دغه پوره ایمان چې د مومنانو د محبت او ورورۍ په نتیجه کي زرغون شی ، جنت ته د داخلیدلو سبب ښودل شوی دی . په دی معنی چې تر هغی چې مسلمانان په خپلو کي تول سره وروڼه نه شو او د محبت او ورورگلوی په کلکه رسی منگولي تینگي نه کړو زمونږ ایمان تیمگړی بلل کیږی . همداشان دا محبت او وروری هغه وخت په لاس را تلای شی چې ټول مسلمانان په خپلو کي اتفاق ولری ، یو د بل د مصالحو احترام وساتی ، یو د بل مال ، اولاد او ناموس ته د قدر په سترگو وگوری او په هر کار کي د خپل مسلمان ورور د اخلاقی ، وطنی ، مالی ، سیاسی او اقتصادی مصالحو د ساتلو او د غرض له تورو لاسونو د دغو مصالحو دفاع خپل ایمانی مسئولیت وگنی . د خپلي عقیدي او ایدیالوژۍ د ورونو په ټولو مشکلاتو کي خبر وساتی او تر وسی وسي ورسره د کړاوونو په لری کولو کي مل او په غیاب کي د هغه احترام وساتی ، په خپل مسلمان ورور نه په خپله ظلم وکړی او نه یې هم د بل ظالم او بل چا ظلم ته یوازي پریږدي ، نو داسي ټولنیزي چاري او داسي ټولنیز تشکیل به په نتیجه کي د پوره او مطلوب ایمان انځور وی او داسي ټولنه د دین او الهی قانون له نظره «امة » بلل کیږی .

هلته به مسلمانان په ټوله نړی کي سرلوړی وی ، هیڅوک به د هیڅ ډول تهدید تعزیر او ارعابی سیاستونو هڅه نشی کولای .

او اسلامی نظام به د پخوا په شان د څمکي پرمخ فعال او مؤثر سیاسی ، اقتصادی ، تربیوی او علمی حضور بیا مومی ، د دي برعکس اختلاف یو له بل نه لریوالی ، ناروا تربگنی او په خپلو کي سره لاس گریوان کیدل ، یو د بل د مصالحو خیال نه ساتل او دیردیو په لمسه او د هغوی د گټو د تأمین لپاره له خپل ایمانی او عقیدوی ورور سره اړیکي شلول او په کلونو کلونو په خصومت کي اوسیدل ، مستقیماً زمونږ له عقیدي او ایمان سره ټکر لری او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د مبارک حدیث له مخي له اکمال نه د نیمگړتیا خواته ځی چې په نتیجه کي اسلامی ټولنه او مسلمانان خپل عظمت او مؤثر حضور له لاسه ورکوی او بې دینه شرقیان او غربیان یکي خپل غرضونه پالی .

اللهم اعنا علی ذکرک و شکرک وحسن عبادتک آمین .

گهر پندهایی از :

حضـــرت علی مــــرتضی کــرم الله جـــهـــه :

۱- نفسهای آدمی گامهای است که به سوی مرگ می سپارد .

۲- خدای را به فسخ عزیمتها وگشودن گره نیتها وشکستن تعمیما شناختم .

۳- هرگز غیر تمندی زنا نکرده است .

٤- علم دوعلم است : یکی علم مطبوع که سرچشمه اش در نهاد جانست و دیگر علم مسموع که حصولش به آموختن از این وآنست و تا علم مطبوع نباشد علم مسموع سودی نبخشد .

٥- توانگری در غربت وطن است و تهیدستی در وطن غربت است .

تمثیل استقلالیت قوه قضائیه

یحیی بن خالد برمکی بلخی که در زمان هارون الرشید سمت وزارت داشت در یک قضیه ، جهت ادای گواهی به پیش قاضی ابو یوسف «رح »رفت و شاهدی داد . امام گواهی یحیی را نپذیرفت . هارون رشید علت رد گواهی یحیی و زیرخودش را جویا شد . حضرت فرمودند : روزی من وتو درمجلس نشسته بودیم . شما او را جهت انجام کاری امر کردید و او گفت غلام شما درخدمت است . این سخن از دو حالت خالی نیست . پس اگر صادق باشد گواهی غلام قبول نیست چون شهادت از جنس ولایت است وشخص غلام اولایت ابا استقلال نفس خود را ندارد ، چه رسد ولایت به دیگران . ویا هم کاذب است که دراینصورت گواهی انسان کاذب مردود است.

هارون رشید گفت : اگر عوض یحیی برمکی خود ، گواهی دهم قاضی و امام مسلمان گواهی ام را قبول خواهد کرد یا خیر !

حضرت امام فرمودند : هرگز .

هارون رشید : چرا !

امام : تو تارک نماز جماعت هستی .

هارون : من به کارهای مسلمین مشغولم

امام : د رمعصیت خداوند «ج » طاعت مخلوق جواز ندارد .

هارون رشید که این موقف ضعیف خود را نزد محکمه دید فرمان داد تا دروازه ای مسجد بنا کنند و امام و موذن توظیف کنند ونماز جماعت برپا دارند تا اینکه خودش به امر و وقت به انجام رسیده گی کند.

به راستی که قوه قضائیه یک مملکت باید با همین حالت دربرابر حکام درجدول قرار بگیرند تا استقلالیت خویش را عملاً تثبیت نماید و به خاطر رضای ارباب زر و زور و متاع قلیلی که تحت عنوان ، معاش » و بنامها والقاب بلند وبالای حکومتی و دولتی به قاضی داده میشود ، با دین وعقیده و آرمان تمام مسلمین معامله گری نکنند و قوه قضائیه که از قوه های سه گانه مستقل در نظام اسلام است

از آن حفاظت ... سازمان اسلامی ... بکنند .

په پښتو شعر کي مذهبي څرکونه

دثبات لیکنه او څېړنه

۱٤

خوشحال خان خټک د حمدیه کلام نه وروسته څو نعتیه کلامونه هم لری او داځکه چې د پرودگار عالم د ملی محبوب ، چې الله تعالی د ده دلاهوتی مینی په وجه جهان او عالم پیدا کړ لکه چې رحمان بابا ویلی :

که صورت د محمد «ص »نه وای پیدا
پیدا کړي به خدای نه وای دا دنیا

او پاک خدای د غه د لولاک یزدانی تاج د ده په مبارک سر کیښود . نو دا د ه چې د خدای تر پاک نامه وروسته د حضرت محمد «ص » نوم را ورل خدایی حکم او پردې درود ویل قرآنی فریضه ده ، نو داده چې خوشحال خټک هم د حضرت محمد «ص » په نوم نعتیه کلامونه لری او په دي نعتونو کي :

چې په روی به یې بخښل شی پاک ، ناپاک
بل سری نه دی ، صاحب دی د لولاک
تر هلال یې صدقه شم تر بلاله
په اخلاص یم زه د دوی د تلی خاک
د بوذر او د سلمان یې د رویز گریم
تل د دوی په محبت دی زما ژواک
که سواره یې مینی د لښکر دیر دی
لاس زما د دلدل سوار د زین فتراک
محمد «ص » د علم ښهر دی ، دی یې ور ؤ
تر قنبر یې شه خوشحال خټک فداک

(د خوشحال خټک کلیات ج ۱ ، د افغانستان د علومو اکادمی ، دولتی مطبعه ۱۳۵۸ ش ، ۳۰ ، ۱مخ)

او په دی لاندنی نعتیه کلام کي خوشحال خټک د تلمیح د ادبی صنعت په بنا د حضرت محمد «ص » د سیدالمرسلین او اخرالزمان پیغمبر د مقام په باب په څومره لوړ مذهبی انداز لیکلی دی :

قربان دي تر نامه شم محمده پیغمبره !
اول ثنا د خدای ښایی ، بیا ستا ثنا ده غوره
آدم که دي پدر دی ، په معنا کي ستا پسر دی
تر واړو مرسلانو ، مقدمه مؤخره
د نوح نجات له تا ؤ د طوفان له امواجونو
گلزار په خلیل اور شو ، ستا له رویه ای سروره
چې خلاص شو له کشتنه ، اسمعیل مړ یې قربان شو
چاره د ده له حلقه ، ستا اروا کړه لروبره
موسی ته څرگند نه ؤ وعیسی ته ښکاره نه شول
په قاب او په قوسین کي ، په هغه اسرار خبره
موسی په کوه طور د تجلی طاقت رانه وړ
تا ولیده د سر په سترگو خپل مولا بهتره
ستا صفت به خوشحال څو کاندی په ژبه
«انه وانت المولا و افضل تره »

(پورتنی اثر ۲۱٤ مخ)

خوشحال خټک د حضرت محمد «ص » د معجزو په متعلق چې لوی خدای ورته د خدایی د نبوت او د پیغمبری د حقانیت په خاطر د یو خارق العاده عمل په څیر ورکړی ، داسي څو بیلگي په ډیره ښکلی او بې پیرایه کي وراندی کوی ، چې د د غو معجزو د معرفی کولو له برکته یې د خوشحال خټک شعر ته د هنری اعجاز مقام ورکړی دی :

چې یې میاشت کړه د اسمان د پاسه شقه
چې آفتاب یې ... رانبکاره کړ له شفقه
چې په سر باندي ابر سایبان ؤ
چې یې پاتې جبرائیل شو له ا ... فقه

پاتی لري



عکس: اولین قبلهٔ مسلیمن که امروز مورد تاخت و تاز صهیونیستهای اشغالگرقرار دارد

نکته های نغز

*هستند کساني که براي دشمني دوستي میکنند .

* مال به روز سختي به کار آید ودوست به هنگام محنت .

* مقصر کسي نیست که مرتکب گناه گردیده بلکه کسي است که اورا درظلمت جهل باقي گذارده است

* عفو کردن خطا انتقام ملایمي دارد .

* سخاوت در زیاد دادن نیست ، درموقع دادن است.

* ظفر متعلق به کسانیست که بیش از دیگران استقامت دارند .

* تصمیم شبیه به مارماهي است :گرفتن اش اسان است ولي نگهداشتن اش بس دشوار

* لذتي که از علم حاصل مي شود بي آلایش است .

اعلانات

وزارت مخابرات شانزده قلم روغنیات وغیره اجناس شامل تیل دیزل ، پطرول ، ویکم ، سیائیل ، هایدرولیک تیزاب ، تیل برق ، آب انتی فریز ، صافی ، پاسپاس ، فلتر های موتر ، گریس و بوره اره را به قیمت مجموعی مبلغ دوملیارد ویکصدوسی ونه ملیون ویکصدوپنجاه ودوهزار افغانی از بازار وریاست مواد نفتی نرخ گرفته است .

مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت تهیه خدمات وزارت مخابرات بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۳-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه راملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد

***

وزارت صحت عامه کانتین وبایسکل نگهبانی شفاخانه عاجل «ابن سینا » را برای مدت یکسال به کرایه میدهد .

اشخاص و موسساتیکه خواهش قرارداد آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات ریاست اداری وزارت صحت عامه بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۳-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

حویلی یک منزله و خانه عبدالحکیم رنگین واقع عقب دیپوی های شیرپور و حویلی عبدالواسع واقع وزیر اکبر خان مینه مقابل ریاست نشرات دفاع ملی دارای دو منزله کانکریتی دارای پنج اتاق نشیمن ویک سالون ، اشپز خانه ، سه تشناب ، چاه آب ، یک گلخانه ، چهار اطاق تهکاوی سه پیاده خانه که تحت تأمین پشتنی تجارتی بانك است به کرایه داده میشود .

اشخاص وموسساتیکه خواهش کرایه گرفتن آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت قروض داخلی و خارجی پشتنی تجارتی بانك بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۳-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه راملاحظه کرده میتوانند تأمینات اخذ میگردد .

***

پشتنی تجارتی بانك به تعداد یکصدوپنج توپ تکه سیفون تحت تضمین خویشرا طور لیلام بفروش میرساند .

اشخاص و موسساتیکه خواهش خریداری آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت بارچالانی پشتنی تجارتی بانك بسپارند وخود شان بتاریخ ۷-٥-۱٤۲۲ نزد هیأت مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

چهار باب دکان ملکیت (جست وقت بانکه) واقع حصه دوم کارته پروان که تحت تضمین پشتنی تجارتی بانك قرار دارد به کرایه داده میشود .

اشخاص و موسساتیکه خواهش کرایه گرفتن آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت قروض داخلی وخارجی پشتنی تجارتی بانك بسپارند و خود شان از تاریخ ۲۳-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تأمینات اخذ میگردد

***

به تعقیب اعلان های قبلی بازهم به اطلاع غلام حسین قراردادی قبلی سارکیت هوتل سپین زر میرساند تا غرض تصفیه حسابات سابقه خویش از تاریخ ۲۳-٤-۱٤۲۲ تا پانزده روز به هوتل سپین زر حاضر شود در غیر آن جناس شان طبق مقررات در غیاب شان لیلام وقیمت جنس در باقیداری های شان محاسبه میشود .

***

وزارت مخابرات تعداد هشت قلم مواد اعاشوی شامل برنج باریك سیله جوچه ، روغن شمع ، لوبیای سرخ وطنی ، دال پشاوری ، چای سیاه ، بوره و غیره را به قیمت مجموعی مبلغ یکصدوبیست شش ملیون ونه صدو پنجاه وپنج هزار افغانی از بازار نرخ گرفته است .

مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت تهیه خدمات وزارت مخابرات بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۳-٤-۱٤۲۲ تا ده روزمراجعه نمایندشرطنامه راملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

وزارت اطلاعـــات وکلتـــور میخواهد یك حلقه چاه اساسی در پارك وسایط جوار تعمیر وزارت طبق نورم فني حفر نماید .

اشخاص و موسساتیکه خواهش حفر آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات وزارت اطلاعات وکلتور بسپارند و خود شان از تاریخ ۲۳-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

آریانا افغان هوائی شرکت به پانزده هزار بیك حجاج ضرورت دارد اشخاص و موسساتیکه خواهش رسانیدن آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت تهیه و تدارکات اریانا افغان هوائی شرکت واقع انصاری واټ بسپارند وخود شان از تاریخ ۱۹-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ مـــــــیگـــردد

راغلی لیک

دکابل ښاروالی دپام وړ:

دشریعت ورځپانې درنو چلوونکو! هیله ده زمالاندې څوکرښې دخپل اخبار له لارې اپوند، مراجعو ته ورسوی پرمبې داچې دهیواد وروستیو حالاتو له امله ډیرخلک له هیواده لړی او بالاخره له خپلو ښاروا و بازاروسره ناآشنا شوی دی نو کله چې بو دغسې مهاجر او ډیرو وختو پردیسي کابل او دهیواد نوروښاروته راستنیږی که هرڅومره وګرځي دځایونو پتی او نومونه ، نه ورته معلومیږی نو په کارده چې دښاروالی له خوا دوکانو او نورو ادارو ته په لوحوکی دپتی لیکلو ښونه وشی ترڅو مسافروته ستونزی پیښی نه شي.

دوهم داچې دښاروالی ځپ ته لوی چمن چې فکر کوم څه خاص نوم نه لری باید په رسمی توګه دامیرعبدالرحمن خان پارک په نامه وبلل شی، ځکه نوموړی همدلته ښخ اوکه هرڅه؟ توته توته افغانستان یی سره یو موټی کړاو ددی کار زور خو اوس موږ ته هم معلوم شوی دی.

اودریم داچې دخدای فضل دی ښاروالی دښار سړکونه او نالی ترډیره حده جوړکړی دی خو بیاهم ځای پرځای کثافات او ډیرانونه دښار دناولتیا باعث اودناروغیو خپریدوته یی لاره هواره کړی ده -هیله ده پاملرنه ورته وکړی.

محمد علی ، ایوب خان مینه ، کابل

محترمو! ستاسووړاندنیز ونه موخپاره کړل خدای دی وکړی چې د کابل دښاروالی توجه وروګرځی.

دعربي اماراتو...

دمیاشتی په ۲۹ نیټه د یو رسمی سفر لپاره دمتحده عربی اماراتو ته په رسمی دول تللی ؤ ددغه هیواد دخیریه موسسوله یوشمیر چارواکو سره په ابوظهبی ،دوبی، عجمان او شارجه کی وکتل . او دوچکالی له امله را منځ ته شوی ستونزی اومشکلات یی ددغه هیواد له چارواکواو مقاماتو سره طرحه کړل .

دغه راز دمتحده عربی اماراتو لوری دژورو ځاګانو دکیندلو په مقصد دبرمی د پیرودنی لپاره دافغانی سری میاشتی له عالی تولنی سره دسلو زرو درهمو مرسته وکړه

عملیات های مغلق..

معاون شفاخانه میوند به خبر نگار ما اظهار داشته افزود ند که شفاخانه میوند به شمول طبیبان در سرویسهای گوش و گلولی مردانه ،اطفال ،سوی تغذی ،جراحی پلاستیکی ، گوش و گلو ی زنانه و سرویس جلدی ۱۵۰ نفر که شامل کارگران ،اجیران و طبیبان طبقه اناث میشوند به خدمت هموطنان قرار دارند . نامبرده افزودند با شفاخانه مابعضی از موسسات همکاری دارند که بیست فیصد ادویه مریضان رامو سسات غیر حکومتی و هشتاد فیصد وزارت صحت عامه امارت اسلامی افغانستان تمویل میکند طبیبان این شفاخانه در طول ۲۴ ساعت نوکریوالی با بسیار حوصله مندی در خدمت مریضان قرار دارند خبر نگار ما سری به سرویس جراحی پلاستیکی زده و با محترم فریدون ابوی مسئول این بخش صحبتی انجام داده که توجه شما را به خوانش آن معطوف میداریم نامبرده در خصوص فعالیت بخش جراحی پلاستیکی چنین گفتند بخش جراحی پلاستکی در سال ۱۹۹٤ در چوکات وزارت صحت عامه به همکاری موسسه M.R.C.A آغاز به فعالیت صحي خویش نوده که درسال گذشته به تعداد ۷۰۸ واقعه را موفقانه تداوي وبعداز صحت یابی دوباره مرخص نموده در ربع اول سال ۱٤۲۲ توانسته ۱۱۵ واقعه را عملیات نماید در این سرویس ۲۵ بستر موجود بوده که بسیار واقعات دلخراش ایکه درمرکز و خارج کشور به وقوع پیوسته در سرویس فعلاً بستر میباشند مریض ایکه سن اش در حدود ٦ سال میباشد این طفل نسبت عدم توجه والدین سبزه را به دهن میگیرد و حیوان بالای سبزه حمله میبرد و تقریباً زنخ و لب پاینی طفل بکلی از بین میرود طفل بعد از ۵ روز به شفاخانه انتقال و تحت عملیات قرار گرفته و از دیگر اعضای بدنش گوشت به زنخ ولب تحتانی پیوند گردید و فعلاً حالت مریض خوب است .واقعه دیگر سوختگی شدیدی به یک هموطن مهاجر در پاکستان وقوع میپیوندد که تداوی آن در پشاور با بسیار پول گزاف نا ممکن بوده و مریض به شفاخانه میوند انتقال وبعد سه بار عملیات حالت مریض فعلاً خوب است و بعد از چند روز مرخص خواهد شد. عبدالبصیر

یک زن قزاقي...

حکم محکمه در باره او عادلانه نیست.

یک روزنامه قزاقستانی نوشت این زندانی چهل و پنج ساله قبلاً اعتصاب غذا کرده بود زمانیکه ماموران زندان قصد کردند اورابزور غذا بخورانند دهان خودرا دوخت مسوولان پولیس شهر آلتیه اعتصاب غذایی این زندانی را تکذیب کردند و گفتند که او بارها از نوشیدن آب امتناع می ورزید.

معلوم نیست که زندانی متهم به قتل با تار خیاطی دهنش را دوخته است یا با تار جراحی طبی

په غزني کي د...

دتاریخی زیارت او مدرسی دترمیمولو او رنګولو کار پرون پیل شو. دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ په هیواد کی د تاریخی ابداتو دترمیمولو او بیا جوړولو دکار په دوام د حضرت حکیم سنایی غزنوی دمزار دترمیمولو کار چې څه موده مخکی پیل شوی ؤ په دی وروستیو وختونوکی بشپړ او پرون دشمس العارفین دزیارت اومدرسی او دشمس الاولیا شیخ امام عبدالواحد «ع» دزیارت دترمیمولو او رنګ لو کار پیل شو .

په هغی غونډه کی چی له همدی امله جوړه شوی وه دغزنی والی محترم ملا دوست محمد اخند او ددغه ولایت داطلاعاتو او کلتور رئیس محترم مفتی لطیف الله حکیمی داسلامی امارت دفرهنګی تګ لاری او اسلامی او فرهنګی ارزښتونو ته د درناوی په اړوند خبری وکړی او دمقدسه اماکنو دترمیمولو او بیا جوړولو ارزښتونه یی بیا ن کړل .

ددغو مدرسو او زیارتو نو دترمیمولو او رنګولو لګښتونه دغزنی ولایت داطلاعاتو او کلتور ریاست له بودجی څخه تمویلیږی.

دیادونی وړده چې دسلطان حسین بایقرا دتاریخی مدرسی ګنبزه چی دعلم دوست وزیر امیرشیرعلی نوایی په دوران کی جوړه شویده او دحضرت شمس العارفین او حضرت شمس الاولیا د زیارتو ګنبزی چی تر میمولوته یی اړتیا لرله هم دغزنی ولایت داطلاعاتو او کلتور ریاست لخوا له لرغونی سبک سره سم دتاریخی معیارنو له په پام کی نیولو سره ترمیمیږی.

یک قصاب...

هموطنان ما مبادرت میورزید درساحه پل خشتی دستگیر وبه پنجه قانون سپرده شد .آژانس اطلاعاتی باختر خبر داد .

پرسونل طب حیوانی وزارت زراعت ومالداری که جهت بررسی از چگونگی فروش گوشت درمارکیت های قصابی توظیف گردیده است دیروز یکتن قصاب را که به عرضه لاشه حیوانی یعنی گوشت غیرصحی مبادرت می ورزید درساحه پل خشتی دستگیر وبه پنجه قانون سپردند . گوشت به دست آمده بعداز معاینات تثبیت گردیدکه کاملاً غیر صحی بوده و باعث سرایت امراض گوناگون در وجود انسانها میشد بناً لاشه حیوان به منظور جلوگیری از سرایت امراض دفن گردید. سلسله بررسی از چگونگی فروش گوشت درمارکیت های قصابی ادامه دارد.

امریکا عامل اساسي.

فلسطین بیان داشته افزود امریکا باخودداری از ایفای نقش جدی اش در روند صلح شرق میانه راه را برای اسرائیل بازکرده است تابه تجاوز اش ادامه دهد وی اخطار دادکه دستور اریل شارون به اردوی صهیونیست مبنی برتداوم حملات علیه فلسطین اوضاع را بیش از پیش پیچیده ترخواهد ساخت .

براي پروازهاي...

انتقال پست ، پارسل ،ادویه جات ، سمپل های مریضان غرض معاینات لابراتواری ،اشخاص مریض ، اشخاص موسفید و... انتقال کارمندان ملل متحد و موسسات غیر حکومتی از افغانستان به مناطق یاد شده وازآنجا واپس به نقاط مختلف کشور از جمله مواد شامل این طرح می باشد که شرکت باختر خواهان انتقال این اشخاص توسط طیارات چارتر مربوط کمپنی های آزاد هوائی منطقه گردیده است .

منبع می افزاید : شعبه تعزیرات در جواب این طرحه چنین تاکید داشته که این تقاضا زمانی مورد بحث قرار خواهد گرفت که از سلسله وزارت امور خارجه امارت اسلامی افغانستان عنوانی این شعبه پیشکش گردد .

طبق یک خبر دیگر فعلاً طرح متذکره از جانب شرکت باختر عنوانی وزارت امور خارجه امارت اسلامی افغانستان پیشنهاد گردیده .تا از آن طریق رسماً به شعبه تعزیرات ملل متحد راجع گردد .

مهربان

په هلمندکي...

مراسمو په ترڅ کی وترل شوی .

دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ په هغو مراسمو کی چی دهلمند والی محترم ملا عبدالباری اخند او ددغه ولایت دمرستیال محترم مولوی خوشدل په ګډون دهلمند ولایت دجهادی مدرسی په انګړکی پرځای شول محترم مولوی عبد الله ، محترم مولوی روح الله دهلمند او ارغنداب دناوی رئیس محترم مولوی دین محمد حقبین ، دکندهار دجهادی مدرسی استادانو محتوم مولوی عبدالبصیر او محترم مولوی شریف الله دهلمند ولایت امنیه قوماندان محترم مولوی عبدالحق حقانی دجهادی مدرسی مسئول محترم مولوی محمد او محترم مولوی عبدالرحمن رحمانی په وار سره دمدرسو د ارزښت او دقرآن عظیم الشان دحفظ او تلاوت دفضیلت په باب خبری وکړی . وروسته د نولسو تنو مولویانو دقرآن عظیم الشان داتلسو تنو قاریانو او ددیارلسو تنو حافظانو د فضیلت پګړی وتړل شوی .

جنرال مشرف

ددغه هیواد نورو مقاماتو د پاکستان مشر ته هر کلی ووایه .

جنرال پرویز مشرف به ددغه سفر په بهیر کی چی دهند په بلنه شویدی ددغه هیواد له مقاماتو سره د دوه اړخیزو اړیکو د سیمی او دکشمیر دحالاتو اودعلاقی وړ نورو مسایلو په باب خبری اتری وکړی .

دپاکستان له مشر سره په ددغه سفر کی ددغه هیواد بولړ رتبه ۱۹ کسیزه پلاوی هم ملګری دی .

دغه سفر به تر دری ورځی دوام وکړی

دلاسي صنایعو...

سوغاتونو په تر لاسه کولو بریالی شول .

دباختر اطلاعاتی اژانس خبر راکړ دکار او ټولنیزو چارو لوی رئیس محترم مولوی عبدالغیاث قانع پداسی حال کی چې ددغی اداری شمیر چارواکي هم ورسره وپرون ددغه ریاست دلاسی صنایعو او دحرفوی زده کړو ځانګی وکتلی .او دیبلابیلو ځانګوکړه وړه او فعالیتونه یی وڅیړل .

دکتنی په پای کی دلاسی صنایعو دیبلابیلو برخو په ۱۷ تنو زده کوونکوباندی نغدی سوغاتونه وویشل شول.

دحاجي عبدالرحمن .

حاجی عبدالرحمن هم یا دولی شو چی دکابل د امیر عبدالرحمان خان پارک کی بی دیو ښایسته جومات جوړولو ته ملا تړلی ده .

زموږ خبریال پدی اړه داسی راپور راکوی :

دغه جومات چی دحاجی عبدالرحمن دزوی انجنیر شعیب لخوا تول مالی مصرف ورکول کیږی ، دری پوړه په یو وخت کی ۷۰۰۰ لمونځ کوونکی ځایوی او دیو نیم ملیون ډالرو په مصرف جوړیږی .

ددغی پروژی مسؤل رحیم ګل موږ ته دزیاتو معلوماتو په ترڅ کی داسی وویل ددی جومات کار چی تر اوسه ۲۰ فیصده پر مخ تللی په راتلونکو ۲ کلو کی به سرته ورسیږی .

نوموړی دجومات دمخکی په اړه وویل دلته ۸۰۰۰ مربع متره مځکه داسلامی امارت لخوا موږ ته راکړل شویده چی ۹۰۰ متر مربع جومات داخلی برخی ته ، ۱۲۰۰ مربع متره تشنابو او داوداسه ځایونه او پاتی برخه دجومات انګر لپاره ځانګړی شوی ده .

له محترم رحیم ګل نه مو دنقشی ددیزاین په اړه وپوښتل چی دچا له لوری ترتیب شوی ده . ده وویل دا نقشه ۵۰۰۰۰ ډالره بیه لری چی دانجنیر فاروق لخوا مفته جوړه او دګل آقاحیدری په لاس تطبیق کیږی.

په اخیر کی نوموړی وویل موږ دحج او اوقافو له وزارت نه هیله کوو چی په اداری ستونزو وکی راسره مرسته وکړی .

محمد رفیق عزت

امریکا یک استاد..

یکروزه اودبروز بطور غیرعلنی درپیکنگ برگزار گردید ، مقامات تینیوا خبرگزاری چین میگویند یک مقام سفارت امریکا و وکیل که از سوی آقای لی برای دفاع ازوی انتخاب شده بود دردادگاه حضور داشتند تینیوا میگوید آقای لی به جمع آوری اطلاعات برای یک سازمان جاسوسی تایوانی متهم بود.

آقای لی یکروز پس از آن دردادگاه حاضر شد که کمیته بین المللی المپیک نگرانی های مربوط به کارنامه حقوق بشر چین را کنار گذاشت وپیکنگ را برای میزبانی بازیهای ۲۰۰۸ انتخاب کرد .

جالب وخ...

بایسکل های رایگان

ښاروالی پایتخت کشور لتوا نیا بخاطر مبارزه با خرابی هوای محیط زیست و جلوگیری از تراکم ترافیک شهری دست به ابتکار جالبی زده است .

این ښاروالی روزانه پنج صد عراده بایسکل را از طلوع آفتاب تا غروب

سرباز جگ...

یک محکمه در کانگو یکی از سربازان خمر های سرخ را که پس از قتل دوست خود جگر وی را خورده بود به هجده سال حبس محکوم نمود . چندی قبل این سرباز با دوست خوددرگیری لفظی

زندگی با مارهای...

چندی پیش مردی در کنار یکصدو شش مار زنگی شب را در درون کیسه خوابش سپری کرد و بدین وسیله ریکارد جهانی را درین زمینه شکست قبلاً چکی بابی از تکزاس بخاطر زندگی با هفتاد و پنج ما ر زنگی ریکارد زندگی با مارها را قایم کرده بود اما

مردی برای اعدام شدن...

مرد یکه چندی قبل در جاپان هشت متعلم یک مکتب را با چاقو بقتل رسانید انگیزه خو درا از ارتکاب این جنایت هولناک بیان کرد . وی گفت من متعلمین یک مکتب تیز هوش هارا برای ارتکاب جرم انتخاب کردم چون میدانستم

مسابقه مساویانه..

گزارش خبرنگارما تیم شاهین کندهار جهت اجرای مسابقات بروز جمعه وارد کابل گردیده بود ومطابق جدول المپیک اولین مسابقه آنها دبروز به ساعت ٤:۲۵ آغاز گردیدکه جهت تماشاي این مسابقه هزاران تن تماشاچی دراستدیوم ورزشی کابل جمع شده بود .

درجریان تایم اول مسابقه بسیار دوستانه وجالب بود که این تایم بدون کدام گول خاتمه یافت .

درتایم دوم که بازی بسیار هیجانی وتیز بود سیدطاهر توانست که

...AT DAILY
...shed by :
...of Afghanistan
...Assadullah ,Hanifee,
...lam M. Farooq

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتی بگذارید .